## داوطلبۍ ته بلنه

## داخلي پرانیستې داوطلبي

پروژه: د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت لپاره د دسکتاپ کمپیوترونو چمتو او تدارک کول

داوطلبۍ ته د بلنې شمېره:DAB/1402/NCB/G07

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د 1402 کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د DAB/1402/NCB/G07 داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { د تحویلۍ د جدول مطابق } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (rmaqsood.noori@dab.gov.af) برېښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د پنجشنبې ورځ سهار له {10:00} بجو مخکې 1402/03/25 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین یانقدی پیسی

۸. د آفر د تضمین مبلغ 634,000/ شپږسوه څلور دریش زره افغانۍ

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه 28 ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1402/03/25 څخه تر 118 ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د 15.2 مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1. د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم: تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکاروندوی وي.

2. د تیرو پنځو کلونو په اوږدو کې د کلنۍ راکړې ورکړې حجم 34,870,000 څلور دریش میلیونه اته سوه او اویا زره افغانۍ.

3. داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لړترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. یوه ورته پروژه لږ تر لږه 19,020,000 – نولس میلیونه او شل زره افغانۍ - یا دوه ورته پروژې لږ تر لږه 31,700,000 یو دریش میلیونه او اوه سوه زره افغانۍ په تیرو لسو کلونو کی.

د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې ټولیز ارزښت: ( 7,925,000 اوه میلیونه او پنځه ویشت زره افغانۍ)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمۍ د وروستۍ نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کېږي.

یادونه : د داوطلبۍ څخه مخکې غونډه د شنبې په ورځ 1402/03/13 نیټه ده سهار په 10:00 بجو د تدارکاتو لوی آمریت کی ترسره کیږی.

د آفر د سپارلو پته:

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمېره: +93 (0) 777572349

برېښنالیک: maqsood.noori@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af